بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۸/ شعبان المعظم /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق ۱۹ / دلو/۱۴۰۳هـ، ش**

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت لخوا چې د قرآن کريم د ترجمو کوم ترتيب برابر شوی دی بايد ټول ولس له دې موقع ځخه ښه او پوره ګټه پورته کړي.

الحمد لله الذي أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجاً { وَمَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ} [النحل: ٦٤]، الحمد لله الذي أنزل القرآن ليخرج به الناس من الظلمات الى النور، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، أنزل القرآن في ليلة مباركة تَحُفُّه ملائكة الرحمن وتحيط به تباشير السلام، وأشهد أن سيدنا محمداً عبده ورسوله الذي بلغ الرسالة وأدى الأمانة ونصح الأمة، صلوات الله وسلامه عليه وعلى آله وصحبه والتابعين وتابعيهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى في محكم كتابه: { قَدْ جَاءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُّبِينٌ يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلَامِ وَيُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِهِ وَيَهْدِيهِمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ } المائدة: (۱۵-۱٦)

**درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

قرآن کريم د ټول بشريت د هدايت اصلي او لومړنی سر چينه ده، چې په هر وخت او په هرځای کې د هرې ټولنې د مصالحو او منافعو تأمينوونکی دی، د مسلمانانو د اساسي قانون او شرعي وثيقې په توګه د لوی څښتن تعالی له لوري را ليږل شوی دی او ټول علوم او هدايات په دې عظيم کتاب کې دي او د قرآن کريم شان د ټولو آسماني او غير آسماني کتابونو څخه لوړ دی.

قرآن کريم نه يواځې د عقيدې په برخه کې د اسلام اساس دی انسانانو لپاره؛ بلکې د ژوند په هره برخه کې ښايسته او ښکلې لارښوونې او هدايات لري.

الله جل جلاله قرآن کريم دنړۍ ټولو انسانانو د هدايت او لارښوونې، سعادت او نيکبختۍ لپاره رااليږلی دی. الله تعالی قرآن کريم ددې لپاره رااليږلی دی چې انسانان دبندګانو، بوټو او کاڼو له بندګۍ څخه وژغوري او د يو الله عبادت او وحدانيت ته يې راوبلي.

قرآن کريم ددې لپاره نازل شوی دی چې د جاهليت په ټولو ناوړو عقيدو،ناحقه معبودانو او د جهالت په رسمونو د بطلان خط راکاږي او انسانانو ته داسلام روښانه دين او صحيح عقيده او درست عبادت ور وښيئ.

قرآن کريم د حلالو او حرامو او د غوره اخلاقو د پيژندلو، د ځمکې په سر د الهي قانون دتطبيق او د هوسا اجتماعي ژوند لپاره لومړنی مصدر دی.

داسلامي نظام او حقاني علماوو ايماني دنده ده چې انســانان د قرآن کريم له حکمونو، حلالو او حرامو ، قرآني اخلاقو او آدابو څخه خبر کړي او دا هغه وخت ممکن ده چې رباني او جيد علماء خلکو ته د الله تعالی کتاب (قرآن کريم) ترجمه او تفسير کړي ؛ ترڅو ټول خلک د قرآن کريم له اهدافو، مقاصــدو، احکامو او ارشــاداتو څخه خبر شي او د شريعت د لومړنی منبع په معنا او تفسير باندې پوهه شي.الله تعالی خپل پيغمبر ته فرمايلي دي:( وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ) النحل: (٤٤)

ترجمه:- او نازل کړي دي مونږ تاته ذکر قرآن (يو) لپاره ددې چې بيان کړي ته خلقو ته هغه چې نازل شــوی دی(په دې قرآن کې) دوی ته ، او(بل لپاره د دې)چې ښايي دوی فکر او غور وکړي( په کې چې دغه کلام الله دی).

**داســتدلال وجه:** الله تعالی خپل پيغمبر ته وايي چې مونږ تاته قرآن کريم ددې لپاره نازل کړی دی چې ته خلکو ته هغه څه بيان کړئ چې دوی ته راغلي دي ، ښـايي دوی په کې فکر وکړي، نو رباني او حق پرسـت علماء چې د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وارثان او قائم مقام دي ، داددوی مسـئوليت جوړيږي چې د خپل پيغمبر وظائف مخ په وړاندې بوزي او خلکو ته دالله تعالی کتاب ترجمه، تفسير او بيان کړي.

امام ابن بطال رحمه الله ددې حديث(العلماء ورثة العلماء) په شرح کې وايې: نبي عليه السلام علماء دانبياؤ وارثان ګرځولي دي ، نو په دوی ددين تبليغ واجب دی او ددين نشر وربانديې ترهغې واجب دی ترڅو داسلام دين په ټولو اديانو غالبه شي، کوم علماء چې د نبي عليه السلام په زمانه کې ؤ په هغوی باندې ددين تبليغ فرض عين دی او نن ورځ ددين تبليغ په علماوو فرض کفائي دی ؛ ځکه چې دين په ټوله نړۍ کې خپور شوی دی. شرح صحيح البخاری ـ لابن بطال (١ /١٧٩)

په يو بل مبارک آيت کې الله تعالی فرمايلي دي چې ای پيغمبره ! مونږ قرآن کريم ددې لپاره په تا نازل کړی دی چې ته دا کتاب خلکو ته بيان کړی.( وَمَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ) النحل: (٦٤)

ترجمه:- او نه دی نازل کړی(راليږلی) مونږ پر تا دغه کتاب(قرآن) مګر لپاره ددې چې بيان کړې ته(ای محمده!)دوی ته هغه(څيز)چې اختلاف کړی دی دغو (خلقو) په هغه کې،او(لپاره د)هدايت او رحمت لپاره (دهغه)قوم چې ايمان لري(په ټولو مؤمن به شيانو).

**توضيح:** الله تعالی نبي عليه السلام ته فرمايي چې مونږ قرآن کريم ددې لپاره نازل کړی دی چې ته بيان کړی مشرکانو ته هغه توحيد چې دوی د مسلمانانو سره په کې اختلاف کول، ځکه چې په مکه مکرمه کې هغه وخت کې په مختلفو دينونو باندې ؤ لکه يهوديت، نصرانيت، مجو سيت، شرک او دبتانو عبادت او دا سې نور ، نو الله تعالی نبي عليه السلام ته وفرمايل چې دوی ته د هدايت لار بيان کړې. بحر العلوم للسمرقندي (٢ /٢٧٩)

قرآن کريم يواځنی الهی قانون دی چې بايد حکمونه يې په خلکو پلي او تطبيق شي او لازم ده چې خلک دالله تعالی د حکمونو څخه خبر شي او د خلکو د خبريدو بهترينه لار خلکو ته د قرآن کريم ترجمه او تفســير کول دي. الله تعالی فرمايلي دي: ( إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلا تَكُنْ لِلْخَائِنِينَ خَصِيمًا) النساء:(١٠٥)

ترجمه:- بېشــکه مونږ نازل کړی (لېږلی) مو دی تاته(ای محمده!)کتاب(قرآن)په حقه سره لپاره ددې چې حکم کړې ته(ای محمده!) په منځ د خلقو کې په هغه طريقه سره چې ښوولې ده تاته الله! او مه کېږه له جانبه د خيانتګرو او جګړه کوونکو.

**توضيح:** نن سبا په نړۍ کې مختلف قوانين موجوددي چې ټول د بشر له خوا تدوين شوي دي او د تناقض او ظلم څخه خالي نه دي،

خو الله تعالی څه د باندې څوارلس سوه کاله مخکې دانسانانو لپاره د عدالت څخه ډک قانون راليږلی دی چې ر سول الله صلی الله عليه وسـلم به د هغه قانون په اسـاس دمسلما نانو ترمنځ حتی د غير مسـلمو ترمنځ ور با ندې فيصـلې کولی. دا بايد خلکو ته واضحه شي چې په ځمکه کې حاکميت دالله تعالی دی {إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ} په يو بل آيت کې فرمايلي دي: {وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ} الاحزاب:(٣٦)

ترجمه:- او نه دي (روا) هيڅ مؤمن سړي او نه هيڅ مؤمنې ښځې ته کله چې حکم وکړي الله او رسول د (الله) په يو امر کار کې؛ چې وي دوی ته اختيار له امره کاره خپله (په خلاف د امر د الله او د رسول) هيڅ .

او بندګانو لره په کار دي چې طاغوتي قوانين پريږدي او الهي قانون ته غاړه کيږدي او په الهي قانون باندې خپل اجتماعي ژوند عيار کړي. په دې خبره هغه وخت خلک خبريدی شي چې دوی ته الهي قانون ترجمه او تفسير شي.

ددې هدف د ترلاسه کولو لپاره د ارشاد، حج او اوقافو وزارت په ابتکار او اهتمام سره سږکال هم د تيرو کلونو په څير د شعبان المعظم مياشت له لومړي تاريخ څخه د افغانستان په مرکز او ولاياتو کې په (۳۳۴) درې سوه څلور ديرش لويو نظامي مرکزونو کې د قرآن کريم د ترجمې او تفسير دورې پيل شوي دي چې د رمضان المبارک (۲۵) پنځه ويشتم تاريخ پورې به دوام ومومي .

همدا راز د شعبان المعظم ميا شت د لومړي تاريخ څخه د رمضان المبارک ميا شت د(۲۵) تاريخ پورې به په ملي راديو تلويزون او معارف تلويزون کې هم د سهار له (۹) بجو څخه د ماسپښين تر (۱۲) بجو پورې د قرآن کريم ترجمه او تفسير په پښتو او درې ژبو درنو هيوادوالو ته د هيواد د جيدو علماوو لخوا وړاندې کيږي؛ ترڅو زموږ د ولس لويان، سپين ږيري، ځوانان او پتمنې ميرمنې دقرآني هداياتو، لارښوونو، احکاماتو، وعظونو او پندونو څخه په ښه توګه اګاه شي او پوره ګټه ورڅخه واخلي.

بناءً د افغانستان له مجاهد ولس څخه هيله کيږي چې ددې فرصت څخه ګټه واخلي او د قرآن کريم د ترجمې او تفسير پروګرام تعقيب کړي او ځان د الهي احکاماتو څخه خبر کړي.

افغاني ټولنه په اسلام مئينه ټولنه ده او ددې ټولنې د بدبختيو او اجتماعي مشکلاتو حل يواځې په قرآن کريم شونی دی، د ارشاد، حج او اوقافو وزارت آرزو لري چې ددې ټولنې ا صلاح يواځې په قرآني درسونو، ترجمو او تفسيرونو سره ممکن ده لکه چې امام مالك رحمه الله فرمايلي دي: «لَنْ يَصْلُحَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ، إِلَّا بِمَا صَلَحَ بِهِ أَوَّلُهَا».مجالس التذكير ،لابن باديس(ص: ۱۳)

ژباړه:- هيڅکله به اصلاح نشي اخر ددې امت ؛ مګر په هغه څه به اصلاح کيږي چې لومړنی امت ورباندې اصلاح شوی ؤ.

له بلې خوا به زموږ ولس د هغه قرآن کريم په معنا پوهه شي چې دوی يې په کورونو او مسجدونو کې شپه او ورځ لولي.

## د قرآن کريم د ترجمې او تفسير اهميت او ضرورت:

قرآن کريم د انسانيت لپاره الهي لارښود دی، خو دا چې قرآن په عربي ژبه نازل شوی، ډېری خلک د دې ژبې د معناوو او اصطلاحاتو د درک وړتيا نه لري. له همدې امله، د قرآن د ترجمې ضرورت راپيدا کېږي، ترڅو مسلمانان د قرآن کريم اصلي پيغام وپېژني او عملي ژوند ته يې راوړي.د قرآن کريم د ترجمې اهميت د لاندې دلايلو څخه معلوميږي:

**۱- د غير عربي خلکو لپاره د قرآن د فهم وسيله.**

قرآن کريم په عربي ژبه نازل شوی، او اکثر مسلمانان په عربي نه پوهېږي. ترجمه د هغوی لپاره د قرآن د فهم لپاره آسانتيا برابروي. الله تعالی فرمايي:(وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ).ابراهيم:( ۴)

ترجمه:- او نه دی ليږلی هيڅ رسول مګر خو په ژبه د قوم د ده لپاره ددې چې بيان کړي دوی ته(امر او نهی د الله).

دا آيت دا ښيي چې د قرآني پيغام د رسولو لپاره د ژبې پوهه ضروري ده، چې د ترجمې له لارې ترلاسه کېږي.

**۲- د اسلامي عقيدې او شريعت زده کړه.**

د قرآن کريم ډېری احکام د شريعت بنسټ جوړوي، لکه لمونځ، زکات، روژه، حج، او د ژوند ټولنيز او اخلاقي اصول. که قرآن کريم خلکو ته ترجمه نه وي، نود شريعت زده کړه به ډېرو خلکو ته ستونزمنه وي.الله تعالی فرمايي:(وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ).النحل: ۴۴)

ترجمه:- او نازل کړی دی مونږ تاته ذکر قرآن(يوو)لپاره ددې چې بيان کړي ته خلقو ته هغه چې نازل شوی دی(په دې قرآن کې) دوی ته.

دا آيت دا ښيي چې د قرآن د مفاهيمو تشريح ضروري ده، چې ترجمه يې اسانه کوي.

هغه خلک چې په عربي ژبه نه پو هیږي د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر له لارې دیني عقاید، تعلیمات په صحیح او سمه توگه زده کولای شي او د قرآن کریم له موضوعاتو په سمه توگه خبریدلی شي.

په قرآن کریم کې زیات موضــوعات دي لکه عقاید، حکمونه، حلال او حرام ،جائز او ناجائز، د تیرو امتونو واقعات، د قیامت اهوال او احوال، مثالونه ، د ماضي حال او احوال او د راتلونکو حالاتو بیان، آداب او اخلاق او اسلامي ارزښتونه او داسې نور .

له دغو موضوعاتو هغه وخت انسان خبریږي چې له عربي څخه پښتو یا دري ته ترجمه شي . که چیرې قرآن ترجمه او تفسیر نشي انسان په دغو مسائلو خبر نشي او د هغه اسلام به یواځې په حکایت باندې ولاړ وي ؛ خو که چیرې کوم کس ته دا مسائل له قرآن کریم څخه ترجمه شي ، نو هغه به په مستنده توگه او په صحیح ډول سره زده کړي او بیا به یې نورو ته هم ور وښايي.

**۳-د قرآني لارښوونو عملي کول.**

مســلمانان مکلف دي چې د قرآن لارښــوونې عملي کړي، خو که د آیتونو معنا و نه پوهېږي، نو دا به څنگه ممکنه وي؟ د قرآن ترجمه مســلمانانو ته دا اســانتیا ورکوي چې د قراني احکامو مطابق خپل ژوند برابر کړي. الله تعالی فرمایي:﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ) ص: (۲۹)

ترجمه:- (دغه قرآن) یو کتاب دی چې نازل کړی مو دی هغه تاته (ای محمده!) برکتناک دی، لپاره د دې چې فکر وکړي (کفار) په آیتونو د ده او لپاره د دې چې پند واخلي پرې خاوندان دصافو عقلونو.

**۴- د قرآن کریم ترجمه داسلام په دعوت او تبلیغ کې مهم رول لري.**

داچې قرآن کریم د نړۍ ټولو انسانانو لپاره راغلی دی ؛ نو د قرآن کریم ترجمه او تفسیر دې ته لاره هواره وي اسانه وي چې د نړۍ نور خلک هم د قرآن کریم په معنا پوهه شي چې دا کار د اسلام په نشر او اشاعت کې زیات رول لري.

که چیرې کوم مسـلمان د قرآني احکاماتو خبر وي او هغه ورته ترجمه شـوي وي ؛ کولای شي چې قرآني احکاماتو ته نور خلک هم دعوت کړي او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وظیفه هم اجراء کړي، ولې که څوک د قرآني نصـوصـو په معنا نه پوهیږي هغه نشي کولای چې په شرق یا په غرب کې یا په خپل محیط کې چاته داسلامي احکامو تلقین وکړي.

همدا راز په نړۍ کې بې شمیره ژبې دي که چیرې قرآني آیتونه هغوی ته وژباړل شي ؛ نو دا داسلام په نشر او دعوت کې لویه مرسته کوي. خو که چیرې قرآني آیتونه نورو ژبو ته ترجمه نشي، نو خلک به په قرآن کریم څرنگه پوهه شي او څرنگه به حلال له حرامو جلا کړي او د توحید عقیده به خپله کړي؟

د قرآن کریم ترجمه قرآن کریم ته د دعوت او تبلیغ اســاسي وســیله ده، ځکه چې خلک یوازې هغه لارښـود منلی شي چې پوه شي. الله تعالی فرمایي: (هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ) ابراهیم: (۵۲)

ترجمه:- دغه قرآن خبره رســونه ده (کافي ده له جانبه د الله) لپاره د خلقو(چې پند پرې واخلي) او لپاره د دې دی چې وویرولی شي(خلق) په (وعظ) د ده سره.

بناءً د قرآن کریم ترجمه او تفسیر د اسلام په نشر او دعوت کې رغنده رول لوبوي.

**۵-قرآن کریم د تدبُّر او تفکُّر لپاره نازل شوی دی.**

د قرآن کریم د نزول له مقاصــدو څخه یو مقصــد دادی چې خلک په کې تفکُّر او تدبُّر وکړي، او په قرآن کریم کې فکر او تدبر هغه وخت ممکن دی چې په معنا باندې یې پوهه شــۍ. که چیرې په معنا او ترجمه یې انســان پوهه نشيــ ، نو د آیتونو په مقاصــدو، اهدافو، اعجازونو ... کې تفکر او تدبر مشــکل دی. الله تعالی فرمایلي دي: ( كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ). ص: (۲۹)

ترجمه:- (دغه قرآن) یو کتاب دی چې نازل کړی مو دی هغه تاته (ای محمده!) برکتناک دی، لپاره د دې چې فکر وکړي (کفار) په آیتونو د ده او لپاره د دې چې پند واخلي پرې خاوندان دصافو عقلونو.

په یو بل مبارك آیت کې راځي: (كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُون) البقرة:(۲۱۹)
ترجمه:- همدا سې (مخکني بیان په شان)بیانوي الله تاسې ته احکام لپاره ددې چې تا سې فکر وکړئ د(الله تعالی په دلائلو او احکامو کې) په (کارونو د) دنیا او آخرت کې.

**٦- د اسلامي ارزښتونو حفاظت.**

دقرآن کریم ترجمه په نړۍ کې داسلامي ارزښتونو حفاظت کوي.که چیرې قرآني نصوص او آیتونه نورو ژبو ته ترجمه او یا تفسیر شي او په نورو ټولنو کې نشر شي، دنورو ټولنو خلک به اسلامي ارزښتونه وپیژني او د اسلامي ارزښتونو له بې حرمتۍ څخه به ځانونه ساتي، چې په دې ډول به داسلامي ارزښتونو حفاظت ډاډمن شي.

**۷- د قرآن کریم ترجمه او تفسیر د تحقیقاتو او څیړنو لپاره مهم مصدر دی.**

نن سبا د تحقیق او څیړنې زمانه ده او په هر برخه علماء تحقیقات کوي چې د قرآن کریم ترجمه او تفسیر د دغو تحقیقاتو لپاره مهم مصدر دی . قرآن کریم معجز کتاب دی او د قرآن کریم اعجاز په کوم خاص علم یا زمانې پورې محدود نه دی، که څوک د قرآن کریم په آیت یا بل کوم علم کې تحقیق او څیړنه کوي ، نو د قرآن کریم ترجمه د هغه کس لپاره غوره مصدر دی.

**۸- د قرآن کریم ترجمه او تفسیر څیړنه اسانه وي.**

که چیرې څوک په عربي ژبه نه پوهیږي او وغواړي چې په څیړنه کې د قرآن کریم په کوم آیت یا سورت باندې استدلال وکړي؛ نو د قرآن کریم ترجمه او تفسیر څیړونکي ته منزل لنډوي او چاره ورته اسانوي.

**۹- د قرآن کریم ترجمه داسلام مقدس دین ته ددعوت غوره وسیله ده.**

که چیرې قرآن کریم مختلفو ژبو ته ترجمه شي ، نو دا داسلامي دعوت لپاره بهترینه وسیله ده .
له دې څخه انکار نشو کولای چې په نړۍ کې زیات کافران شته چې د قرآن کریم له موضوعاتو او معجزاتو خبر نه دي او د قرآن کریم د اعجاز په وجه کې چیرې قرآن کریم د نړۍ مختلفو ژبوته ترجمه شي او وویشل شي خلک به یې مطالعه کړي او یا به مطالب یو تربله تبادله کړي، ددې امکان زیات دی چې ډیر خلک به مسلمانان شي.

**۱۰- د قرآن کریم په زده کړه کې د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر زده کړه هم شامل ده.**

په احادیثو کې چې د قرآن کریم د زده کړې فضائل بیان شوي دي، هغه د الفاظو زده کړه او د معنا او تفسیر زده کړو ته هم شامله ده.لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ). صحیح البخاري
ژباړه:- غوره له تاسو څخه هغه څوک دی چې قرآن زده کړي او خلکو ته یې هم ور زده کړي.
د قرآن کریم د تعلیم او تعلم نه مقصد یوازې د کلماتو او الفاظو زده کول او یادول ندي، بلکې معنی او مفهوم یې هم مراد دی. چې په دواړو برخو یې په مختصر ډول سره په لاندې توګه بحث کېږي؛ ځکه چې (تعلیم او تعلُم) دالفاظو او معنا یادولو دواړو ته شاملیږي .لکه څرنګه چې حفظ، قراءت، تلاوت بیا یواځې د الفاظو لوستلو او یا یادولو ته شاملیږي.

## د قرآن کریم د ترجمې ګټې او فائدې:

دقرآن کریم ترجمه زیاتې فائدې لري چې ځیني یې په لاندې ډول دي:
**لومړی فائده:** د قرآن کریم د جمال، ښایست او محاسنو څخه پرده پورته کول د هغه چا لپاره چې په عربي لغت کې مهارت نلري او د قرآن کریم د زدکړې اسانه کول ترڅو د قرآن کریم په مقاصدو او عالي تعلیماتو پوهه شي او ځانونه په قرآني دلائلو پوهه او عالم کړي او د کفارو او مشرکینو په عقایدو او افکارو باندې پوهه شي، او د قرآن کریم په اخلاقو ځانونه مزین کړي او په عباداتو یې عمل وکړي، فرد او ټولنه د قرآن کریم په اعجاز پوهه شي او ټولنه ځانونه له هغو بدو او ناکاره کارونو او خصلتونو څخه وساتي چې قرآن کریم یې قباحت بیان کړی دی او له قصو څخه عبرت واخلي.
**دوهمه فائده:** د قرآن کریم د ترجمې په مرسته خلک د هغو شبهاتو او اعتراضاتو څخه خبریږي چې د مکې مکرمې مشرکانو ، یهودو او نصاراوو به په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې کول او قرآن کریم د هغو شبهاتو او اعتراضاتو جوابونه کړي دي.

همدارنگه په قرآن کریم کې د هغو اعتراضــونو جوابونه لټول، چې د نن زمانې ملحدین، کفار او گمراهان یې د د د توحید د عقیدې، قرآن کریم د حقانیت په اړه پر هغو مسلمانانو باندې کوي چې په عربي ژبه نه پوهیږي.

او مســلمانان او غیر مســلمانان د هغو ګټو او حقائقوڅخه خبرول چې د هغې په اړه منحرفو ډلو او مذهبونو داســلام په خلاف راپورته کړي دي او داسلامي افکارو، نظریاتو او عقایدو او ارزښتونو په اړه د خلکو په منځ کې شکوک او شبهات را پورته کړي دي.

**دریمه فائده:** د اسلام په ګټورو تعلیماتو او لارښوونو سره د غیر مسلمو د اذهانو او افکارو تنویرول او روښانه کول.

**څلورمه فائده:** د قرآن کریم په ترجمې سره هغه فاصلې، دیوالونه او خنډونه لرې کیږي چې اسـلام دښـمنه قوتونو او مکارانو د حق او دخلکو ترمنځ ایجاد کړي دي چې دا موانع ټول په درواغو باندې ولاړ دي.

**پنځمه فائده:** د دعوت او تبلیغ مسئولیت څخه غاړه خلاصول، څکه د قرآن کریم نورو خلکو ته رسول پر مسلمانانو فرض دي او دا فرض د قرآن کریم په ترجمې سره ممکن ده. الله تعالی فرمایلي دي:{وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ} آل عمران: (١٠٤)

ترجمه:- او وي دې (تل) له تاســې څخه یوه ډله چې بولي (خلق) په طرف د خیر (اســلام) او امر (حکم) کوي (خلقو ته) په معروف (نیکۍ)سره او منعه کوي (خلق) له منکر( بدۍ) نه، او دغه(آمرین بالمعروف ناهین عن المنکر)هم دوی دي په مراد رسېدلي او کامیاب.

د قرآن کریم دعوت او تبلیغ ته لوی جهاد ویل شوی دی. الله تعالی فرمایلي دي: (وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا ) الفرقان: (٥٢)

ترجمه:- او مجاهده مقابله کوه له دوی سره په دغه (قرآن او توفیق در حمان ) په جهاد لوی.

ددې آیت په تفســیر کې علامه الآلوسي وایي:(وجاهدهم أي بالقرآن كما أخرج ابن جرير وابن المنذر عن ابن عباس رضي الله تعالى عنهما وذلك بتلاوة ما فيه من البراهين والقوارع والزواجر والمواعظ وتذكير أحوال الأمم المكذبة جهادا كبيرا)............روح المعاني (١٩ /٣٢)

**أقول قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائرالمسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**